
مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۳۹۸ د غویي ۱٤مه | د ۲۰۲۰ د مې درېیمه | ۵۳۳مه گڼه

# د عارف وزیر شهادت؛

## د ښېښې نړیواله اداره: پاکستاني چارواکي دې ژر تر ژره پېښه په هر اړخیزه توگه وڅېړي



۳

### زیاتېدونکي جگړه او د سولې ورکې هڅې
۲ مخ

### له کووېډ- ۱۹ سره مبارزه او په کلک هوډ سره د سولې خبرو پر مخ بېول
۲ مخ

### هند به په افغان سوله کې کوم ځای ولري؟
۵ مخ

## راپورونه: ایراني پولیسو په لسگونو افغان کارگران پر سیند لاهو کړي دي

د راپورونو له مخې، ایراني پولیسو پنځوس افغان کارگران پر اوبو لاهو کړي چې له دې ډلې یوازې دوولس یې ژوندي پاتې دي. په هرات کې ځایي خبریالانو ویلي، پنځوس افغان کارگران د ذوالفقار نومې سیمې له لارې په قاچاقي توگه ایران ته د ننه کېدل چې د دغه هېواد د پولیسو له لوري تر نیول کېدو وروسته د هریرود سیند ته غورځول شوي او دوولس کسه یې بریالي شوي چې ځانونه وژغوري.

سرچینو ویلي، پاتې نور ټول کسان اوبو ډوب کړي او ژغورل شوو کسانو د اوو تنو جسدونه هم له اوبو را ایستلي دي. په ورته وخت کې د هرات ځایي چارواکي هم پېښه تاییدوي او په اړه یې د پلټنې خبره کوي. د هرات د والي ویاند جیلاني فرهاد ویلي چې د دریو کسانو جسدونه هرات ته راوړل شوي او دوی په دې اړه د یوه پلاوي د گومارلو تابیا کړې، څو پېښه لا روښانه شي او معلومات به یې له رسنیو سره شریک شي.

د یادونې ده چې دا لومړی ځل نه دی چې ایراني پولیس له افغان کډوالو سره پر ناوړه او بشر ضد چلند تورنېږي. تر دې وړاندې هم په دې وروستیو کې داسې راپورونه خپاره شول چې د دغه هېواد پولیس هغه افغان کډوال چې په ایران کې پر کرونا ویروس اخته شوي، د زهري مواد د پیچکاري کولو له لارې وژني او په روغتون کې د بسترېدو اجازه نه ورکول کېږي، خو په هرات کې د ایران کونسلگرۍ دا خبر ردوي او وایي چې هلته داسې کومه پېښه نه ده شوې.

## د کرونا ویروس له کبله ښایي تر سلو زرو ډېر افغانان ومري



۲ مخ

## د شهید عارف وزیر جنازه کې د منظور پښتین خبرې



_ مونږ له یو داسې دښمن سره لاس او گریوان یو چې په هر حال مو وژني. که غلي شو هم مو وژني، که اواز اوچتوو هم مو وژني او که یې خبره منو هم مو وژني. نو پښتون قام باید نور پوه شي چې له داسې مکار دښمن سره څه قسم مخکې ځو.

_ د پښتنو پر خاوره ډېرو زورورو خپل زور ازمایلي. نن پښتانه په خپله خاوره شته خو زورور نشته، نو که ریاست او پنجاب پر پښتنو زور ازمایي باید په شي چې پخواني زورور څه شول.

_ مونږ د پښتون خاورې ته په هیڅ شکل بې عزتي نه شو زغملای ، هر څوک چې دې خاورې ته په سپکه گورې پر وړاندې یې درېږو.

_ مونږ جنگ نه کوو، خو که څوک زمونږ خاورې ته جنگ راوړي د سر په بیه د خپلې خاورې دفاع کوو.

_ د پښتنو پر خاوره جنگي ډلې پنجاب روزلي، دوي ترینگ ورکړي او د وژلو هر قسم تعلیم یې ورکړی.

_ که پنجاب نن پر پښتنو څومره زور کاروي ، هومره به ضربه خوري.


## پوهنتون
۴ مخ

### استقلال د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

استقلال د لوړو زده کړو خصوصي موسسې خپلې رسمي چارې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې پیل کړې دي. د لوړو زده کړو دغه موسسه اوسمهال څلور پوهنځي او اته ډیپارټمنټونه لري.




## صدیقي: روان کال به د بغلان د پستې حاصلات د تېر په پرتله دوه برابره ډېر شي



د بغلان د کرنې ریاست چارواکي وایي، روان کال به په دغه ولایت کې د پستې حاصلات د تېرو کلونو په پرتله دوه برابره شي.

د بغلان د کرنې او مالدارۍ رییس عبدالغیاث صدیقي له رسنیو سره په خبرو کې ویلي، د پستې ځنگلونو ته مناسبه هوا او بارانونه د دې لامل شوي چې د تېرکال په پرتله د پستې حاصلات په دغه ولایت کې دوه برابره شي.

د نوموړي د معلوماتو له مخې، تېر کال د بغلان د ټولو ولسوالیو چې د پستې ځنگلونه پکې دي، حاصلات ۳۳٤ ټنو ته رسېدل.

د صدیقي په خبره، په ټولیز ډول په دغه ولایت کې ۳۸ زره ۳۰۰ هکتاره طبیعي ځنگلونه شته چې له دې څخه ۲۳ زره هکتاره یې د پستې طبیعي ځنگلونه دي.

د نوموړي په وینا، د پستې دغه ځنگلونه په مرکزي بغلان، دوشي، پلخمري، دهنه غوري او نهرین ولسوالیو کې دي.

## لگیت: پروسه کاهش سربازان امریکایی از افغانستان بگونه نورمال پیش میرود




سانی لگیت سخنگوی نیروهای امریکایی در افغانستان می گوید که مطابق جدول زمان بندی پروسه کاهش سربازان امریکایی از افغانستان بگونه درست پیش میرود ودر کنار آن همکاری شانرا نیز با نیروهای افغان ادامه می دهند.

سخنگوی نیروهای امریکایی این مطلب را دیروز ۱۳ ثور به آژانس خبری پژواک گفت ، اما افزود که به دلیل ملحوظات امنیتی نمی تواند در ارتباط به فعالیت ها و تعداد سربازان خود معلومات دهد.

موصوف می گویدکه بعد از امضای توافق نامه میان امریکا و طالبان، کاهش سربازان امریکایی به طور نورمال از افغانستان ادامه دارد. سخنگوی نیروهای امریکایی گفت که مطابق به تعهد خویش الی ماه جولای سال روان تعداد سربازان خویش را به ۸۶۰۰ تن کاهش خواهند داد.

این در حالیست که به اساس معلومات وی،تا آغاز سال روان میلادی، شمار سربازان آن کشور در افغانستان به بالاتر از ۱۲ هزار تن میرسید. توافق نامه میان آمریکا و طالبان به تاریخ ۱۰ حوت سال گذشته در کشور قطر به امضا رسید که به اساس آن در مدت ۱۳۵ روز پس از امضای توافق نامه حدود ۴ هزار سرباز امریکایی افغانستان را ترک کنند.

این اظهارات در حالی ابراز می گردد که به اساس برخی گزارش های که در چند روز اخیر منتشر گردیده است که گویا دونالد ترمپ رئیس جمهور ایالات متحده امریکا به منظور شیوع ویروس کرونا، فیصله خروج تمامی نیروهایش را از افغانستان کرده است.

## دریـځ

### زیاتېدونکي جګړه او د سولې ورکې هڅې

د هېـواد پـه بېلابېلـو ولایتونـو کې د پرله پسې جګـړو، نښتـو او چاودنـو خبرونـه دي. هـره ورځ د لسګونو امنیتـي ځـواکونـو او طالبانـو د وژلـو ادعـاوې کېـږي. حکومت طالبـان ملامتـوي چې بریدونـه یې ډېر کړي دي، خـو طالبان بیا امریکایـان ملامتوي چې هوکـړه یې نقض کړې او پـر حکومت هـم نیوکې کـوي چې د سـولې پـه لاره کـې خنډونـه جـوړوي. کـه لـه ملامت او سـلامت ور تېر شـو، څـه چې روښانه دي، هغه د افغانسـتان د خلکو د هیلو او غوښـتنو خلاف د جګـړې زیاتوالـی دی، چې پکـې د ښـکېلو لـورو ترڅنـګ هـره ورځ بـې ګنـاه ملکـي وګـړي هـم وژل کېـږي.

د امریـکا او طالبانـو ترمنځ د سـولې له هوکـړې وروسـته تـر بـل هـر وخـت اوس جګـړه زیاتـه شـوې ده. سره لـه دې چـې د روژې پـه احـترام او د کرونـا د بحـران لـه املـه لـه ښـکېلو اړخونـو غوښـتنه وه چـې جګـړه کمـه کـړي، خـو لـه بده مرغـه دا غوښـتنه نـه ده منـل شـوې او جګـړه لا زیاتـه شـوې ده. دواړه لـوري پلمـې کـوي. طالبـان وایـي هوکـړه نـه عملـي کېـږي، خـو حکومـت او امریـکا وایـي، طالبانـو تاوتریخوالی نـه دی کـم کـړی. داسـې ښـکاري چـې دا د جګـړې د دوام لپاره یـوازې پلمـې دي. کله چې حکومت جنایـي بندیـان خوشـې کـوي، نـو په دې کـې څـه سـتونزه ده چـې د طالـب بندیانـو خوشـې کـول چټـک کـړي!؟ کلـه چـې طالبان لـه امریـکا سره اوربنـد لـري او د امریـکا له پرله پسـې سرغړونـو سره سره دا اوربنـد نه ماتوي، نو پـه دې کـې څـه سـتونزه ده چې له خپلـه اړخه لـه افغـان لـوري سره هـم جګـړه او تاوتریخوالی کـم کـړي!؟ مهمه دا ده چـې دواړه لوري پر دې ولـس زړه وخـوږوي او پرېـږدي چـې پـه جګـړه، غربـت او کرونـا کـې را ګیـر ولـس لږ د ارام سـاه واخـلي. اوس د ضـد وخـت نـه دی او دا ضـد د افغانانـو د وینـې تویېدنـې او وژنـې د دوام سـبب ګرځـي. دا هغـه وخـت دی چـې هـر لـوری لـه خپلـه اړخـه بایـد حسـن نیـت وښـیي. طالبـان دې د یـو څـه وخـت لپـاره د حکومـت کړنـې هېـرې کـړي، لـه خپلـه اړخـه دې تاوتریخوالـی کـم کـړي او ولـس او نـړۍ تـه دې وښـیي چـې دوی د سـولې غوښـتونکي دي. حکومـت دې هـم د طالبانـو بریدونـه هېـر کـړي، د بندیانـو د خوشـې کولو پروسـه دې چټکه کـړي او له خپله اړخـه دې د سـولې ضـد ځرګندونـه او دریځونـه پرېـږدي. کـه یـو لـوری هـم یـو اړخیـز مثبـت ګامونـه واخـلي، بـل لـوری بـه مجبـور شي، چې مثبـت ګامونـه واخلي. اوس د جګـړې لـه ښـکېلو اړخونـو یـو مثبـت او د سـولې حرکـت هـم مهـم دی او مخامـخ د بـاور پـه زیاتولـو او د جګـړې پـه کمولـو کـې رول لـري. لـه همدې املـه پکار ده چـې دواړه اړخونـه لـه خپلـه اړخـه د مثبتـو ګامونـو پـه اخیسـتو او د حسـن نیـت پـه ښـکاره کولـو کـې سـیالي وکـړي.

د ښـکېلو اړخونـو اوسـني دریځونـه د جګـړې دوام سـبب شـوي دي. پر دغـه دریځونو ټینګار بـه جګـړه وغځـوي او د سـولې پـه برخـه کـې به خنډونـه هـم زیـات کـړي. د دې وېـره هـم شـته چـې د دغـه حالـت دوام بـه یـو مـخ د سـولې د هوکـړې د لـه منځـه تللـو او د جګـړې پخوانـي حالـت تـه د ور ګرځېـدو سـبب شي. له همدې املـه پکار ده چـې د سـولي لـه اوسـني فرصت څخـه ګټـه واخیسـتل شي او د جګـړې مخـه ونیـول شي.

# له کووېډ- ۱۹ سره مبارزه او په کلک هوډ سره د سولې خبرو پر مخ بېول



لیکنه: وانګ یو
په افغانستان کې د چین ولسي جمهوریت لوی سفیر

د چـین د دولتـي شـورا غـړي او د بهرنیـو چـارو وزیر «وانګ یي» څـو ورځې وړاندې د افغانسـتان د بهرنیو چارو له سرپرست وزیر محمـد حنیـف اتمر سره ټلیفـوني خبرې وکـړې. کـه څـه هـم دواړو خـواوو ډېـر پخوا له یو او بل سره پېژندلي، خو دا د ښـاغلي اتمـر لخـوا د بهرنیـو چارو د سرپرسـت وزیر پـه توګـه لـه ټـاکل کېـدو وروسـته د دوی ترمنځ لومړنـی ټلیفـوني خبرې وې چـې پـه افغانسـتان کې د کووېـډ- ۱۹ ویروس د چټـک خپرېـدو او د تلپاتـې سـولې د نـوي فرصـت د رامنځتـه کېدو په حـال کې خورا اهمیـت لري. دواړو خـواوو د کووېډ- ۱۹ پر ضد د چین او افغانستان د ګډې مبارزې، په افغانسـتان کې د سـولې بهیر او د دواړو هېوادونـو ترمنځ د هـر اړخیـزو همکاریو په اړه د نظرونـو تبادلـې وکړې او د خپلمنځي سـتراتیژیکو او همکاریـزو اړیکـو د ښـه پـر مخ بېولـو پر سر یـې خبرې وکړې.

چـین پـه افغانسـتان کـې د کووېـډ- ۱۹ چټـک خپرېـدل وینـي، پـه دې پوهېـږي چـې افغانسـتان اوس لـه سـترې ننګونـې او د اړونـدو توکـو لـه کمښـت سره مخ دی. چینایـان خپـل ځانونـه د افغانانـو پـه غـم کـې شریـک ګڼـي. پـه داسـې حـال کـې چـې د سـاري ناروغـۍ پـر ضـد اړونـد توکـي لکـه د ولسي خلکـو د ژوند د سـاتلو ډال یـا سـپرونه دي. د کووېـډ- ۱۹ پـر ضد ۱۱.۷ ټنـه د چـین مرسـتندویه توکي اوس د هـرات او کابـل پـه ګـډون د ولایتونـو روغتونونـو تـه لېږل شـوي او د زیات شـمېر عامـو افغانانـو د ژونـد سـاتلو لپـاره کارول کېـږي. دا د چـین او افغانسـتان ترمنځ د متقابلـې مرسـتې او د یـو بـل د برخلیکونو د نښـلولو څرګندویـې کـوي. د چـین د دولتـي شـورا غړي او خارجـه وزیر وانګ یي د ټلیفـوني خبـرو پـه ترڅ کې څرګنـده کړه چې چین او افغانسـتان تل پـه خپل منځ کـې بـاور او تفاهـم لـري او له یو او بل څخه ملاتـړ کـوي. چیـن چـې د افغانسـتان یـو ګاونډی هېواد او سـتراتیژیک ملګری دی، پـه سـتونزمن حالت کـې به هرو مـرو خپل حضور څرګند او افغانانو ته د مرسـتې لاس ورکـړي. چیـن تـر اوسـه پـورې افغانسـتان تـه د کووېـډ- ۱۹ پـر ضـد زیـات شـمېر بېړني توکـي برابـر کـړي او د دغـه هېـواد پـه غوښـتنې سره بـه پـه دوامـداره توګـه تر خپلـې وسـې پـورې ورسره زیاتـې مرسـتې وکـړي. د افغانسـتان د بهرنیـو چـارو وزارت سرپرسـت وزیر حنیـف اتمر د زیات شـمېر طبـي توکـو د برابرولـو او د اړونـدو تجربـو د شریکولـو لـه امله له چین څخـه مننه کړې او د چـین لـوړ قدردانـی یـې کـړی چـې د کووېـډ- ۱۹ پـر ضـد چینـي مبـارزه ډېـره اغېزناکـه وه.

پـه ټولـه نـړۍ کـې اوس خلـک د کووېـډ- ۱۹ پـر ضـد مبـارزه کـوي. چینایانـو د مختلفـو هېوادونـو لـه خلکـو سره یـو ځـای پـه ګـډو هڅـو او همکاریـو سره لـه کووېـډ- ۱۹ سره مبـارزه کـړې او د انسـانانو د ګـډ برخلیـک ټولنـې د ابادۍ یوه نـوې پاڼه یې پرانیسـتې ده. رییـس شي جـین پېنګ پـه مسـوولانه توګـه د چینایانـو پـه مشرۍ سره د کووېـډ- ۱۹ پـر ضـد د چینـي مبـارزې لارښـوونې وکـړې او ډېـرې مهمـې لاسـته راوړنـې یـې درلـودې. د کووېـډ- ۱۹ پر ضد د چینایانـو مبـارزې چـې د نړیوالـې ټولنـې صمیمیانـه مرسـتې او ملاتـړ یـې تـر لاسـه کـړی، د نړیوالې روغتیا د سـاتلو لپـاره ډېر مهـم رول لوبولـی دی.

لومړی:
چـین د کووېـډ- ۱۹ پـر ضـد د نړیوالـې مبـارزې لپـاره مهـم خدمتونه تـر سره کړي دي. چـین څـه بانـدې دوو میاشـتو د کوښـښـونو لـه لارې پـه نـړۍ کـې لومړنـی هېـواد دی چـې د کووېـډ- ۱۹ خپرېـدل یـې کنټـرول کـړي دي. لـه تېرې میاشـت راهیسـې په چین کې یوازې ډېر لږ کسان پـر دغـه ویـروس اخته شـوي او د هېـواد په دننـه کـې د دغـه ویـروس خپرېدل نسـبتاً درېـدلي دي. د دې تـر څنـګ پـه چـین کـې اقتصـادي او ټولنیـزې چـارې اوس په منظمـه توګـه عـادي حالـت تـه ور ګرځـي. د نړیوالـې فابریکـې پـه توګـه د چـین د تولیـدي چـارو عـادي کېـدل پـه ټولـه نړۍ کـې د طبي توکو د کمښـت د له منځـه تلو لپـاره شـوي او د نړیوال اقتصـاد د ژر اعاده کېـدو لپـاره یـې مهـم رول لوبولـی دی.

دویم:
چـین د کووېـډ- ۱۹ پـر ضـد د نړیوالـې مبـارزې لپـاره خپـل وړاندیزونـه کـړي دي. رییـس شي جـین پېنـګ د کووېـډ- ۱۹ لـه خپرېـدو راهیسـې د مختلفـو هېوادونـو لـه مشرانـو سره د ویـروس پـر ضـد د ګـډې مبـارزې لپـاره زیاتـې سلامشـورې کـړې او نړیوالـې ټولنـې تـه د مرسـتې برابرولـو پـه اړه یـې د چـین صمیمـي هیلـې او ښـه نیـت څرګنـد کـړی چـې د ویـروس پر ضد پـه نړیواله مبـارزه کې یې لارښـوونکی رول لوبولـی دی.

درېیم:
چـین د کووېـډ- ۱۹ پـر ضد نړیوالـه مبارزه کـې خپلې دنـدې تر سره کـړې دي. چین د دغـه ویـروس له چټک خپرېدو راهیسـې تـل اړونـدو نړیوالـو همکاریـو تـه پـه درنـه سـترګه کتلي او ګوري. کـه څه هم د چین پـر اوږه بانـدې د ویـروس پر ضد د مبارزې دنـدې لا تـر اوسـه درنـې دي، خـو مـوږ تل تـر خپلـې وسـې پـورې بهرنیـو هېوادونو ته زیاتـې مرسـتې برابرې کړې او لـه نږدې مو ورسره همـکارۍ کـړې دي.

څلورم:
چیـن د کووېـډ- ۱۹ پـر ضـد خپـل دریـځ بیـان کـړی او لـه زیاتـو هېوادونـو سره یـې ډېـرې زیاتې موافقې کـړې دي. څه باندې ۱.۴ میلیـاردو چینایانـو پـه یـووالي او ګـډو هڅـو سره د عمومـي منـشي شي جـین پېنـګ پر محور د چین کمونېسـت ګوند د قـوي مـشرۍ، د چینـي حکومـت د علمـي، روښـانه او اغېزناکـو اقداماتـو او د مختلفـو هېوادونو د قیمتي مرسـتې او ملاتړ په اتکا د کووېـډ- ۱۹ د خپرېـدو مخنیـوی کـړی دی. دغـه هېوادونـه د چـین پـه دریځونـو پـوه شـوي او تفاهـم یـې ور سره کـړی دی. بېلابېـل هېوادونـه او نړیوالـه ټولنـه اوس لـه دې سره ټینـګ مخالفت کـوي چې د کووېـډ- ۱۹ د خپرېـدو پـه برخه کې دې پر چین بـې دلیلـه تورونه ولګـول شي.

نړیوالې ټولنې د سـاري ناروغـۍ د مخنیوي او کنټـرول پـه تـرڅ کـې د چینایانـو لخوا د څرګنـدو شـویو ځـواکونو، د چـین ځانګړې روحیـې، اغېزناکتـوب او د مسـوولانه رویې زیاتـې سـتاینې کـړې دي. څه د پاسـه ۱۷۰ تنـو دولتـي مشرانو، د نړیوالو او سـیمه ییزو سـازمانونو مسـوولینو او د بهرنیـو سیاسـي ګوندونـو او ډلـو کابـو ۳۰۰ تنـو مشرانـو پـه سـتونزمن حالـت کې چینـي مشرانـو تـه خپلـه همـدردي او خواخـوږي څرګنـده کـړې ده. نړیوالـه ټولنـه پـه دې نظر ده چې چـین د سـاري ناروغـۍ د مخنیـوي او کنټـرول تـر څنـګ د روغتیـا لـه نړیـوال سـازمان او نړیوالـې ټولنـې سره زیاتـې همکارۍ کـړې دي، د معلوماتـو تبادلې یې کـړې، پر وخت یـې د کووېډ- ۱۹ جینټیک جوړښـت شریـک کـړی، پـه چټکـۍ سره یـې د کووېـډ- ۱۹ پـه اړه د چټکـې طبـي ازموینـې بکسـونه اختـراع کـړي او په نړۍ کـې د دغـه ویـروس د خپرېـدو د مخنیوي لپـاره یې ډېر فعالیتونه کـړي دي. چین نه یـوازې د خپلـو خلکـو د سـاتلو لپـاره خپله دنـده تر سره کـړې، بلکې د نړیوالې روغتیا د سـاتلو لپاره یې مهم خدمتونه کـړي دي. نړیوالـې ټولنـې د چین لخوا نیـول شـوي تدبیرونـه ډېـر اغېزنـاک وبلل.

چیـن د کووېـډ- ۱۹ پـر ضـد د افغانانـو لـه مبـارزې څخه ټینـګ ملاتړ کـوي او غواړي چـې پـه دغه هېـواد کې د سـولې بهیر هم پرمـخ بوځـي. د بهرنیو چارو سرپرسـت وزیر محمـد حنیـف اتمـر د ټلیفـوني خبـرو پـه ترڅ کې د سـولې بهیر وروسـتي پرمختګونه بیـان کـړل او د چـین د مهـم رول سـتاینه یـې کـړې ده. هغه هیله ښـودلې چې چین لـه نورو سـیمه ییـزو هېوادونـو سره یو ځای د افغـان طالبانو او حکومت ترمنځ د ترون د رامنځتـه کولـو لپـاره خپلـو کوښښـونو ته دوام ورکـړي. د چـین دولتـي شـورا غړي او خارجـه وزیـر وانګ یـې پـه دې اړه څرګنده کـړه چـې چـین د سـولې بهیـر پـه اړه د افغـان حکومت له یـاد وړاندیز څخه ملاتړ کـوي او لـه مختلفـو خـواوو څخه غوښـتنه کـوي چـې خپل بـاور ټینـګ کـړي او ژر یو سیاسـي تـړون جـوړ کړي.

د افغانسـتان راتلونکـي سیاسـي ترتیبـات باید پراخ بنسـټ ولري، له ټولو ترهګرو سره دې مبـارزه وکـړي او د سـولې او دوسـتۍ پـر بنسـټ دې دیپلوماتیکـې تګلارې پلـې کـړي. ښـاغلي وانـګ یـې زیاتـه کـړه چـې چـین د افغانسـتان د یـو ګاونـدي هېـواد او نـږدې ملګـري پـه توګـه تـل د افغانانـو لـه خپلـې منتخبـې لارې څخه ملاتړ کـوي او غـواړي چې د افغانسـتان د سـولې په بهیر کـې یو مثبـت ملاتړ کوونکـي، منځګړي او اسـانچاري پـه توګـه خپـل رول ولوبوي.


دواړه خـواوې پـه دې اړه موافقـې تـه رسـېدلې چـې د یـو کمربنـد او یـوې لارې ابـادۍ تـه پـه ګډه پرمختـګ ورکـړي. ښـاغلي وانـګ یـي وویـل، چیـن غـواړي چـې لـه افغانسـتان سره یوځـای د یـو کمربنـد او یـوې لارې ابـادۍ تـه پرمختګ ورکـړي، پـه بېـلا بېلـو ساحو کـې د دواړو هېوادونـو ترمنـځ همـکارۍ پیـاوړې کـړي او دواړو هېوادونـو او خلکـو تـه بـه زیاتـې ګټـې ورسـوي. ښـاغلي اتمـر څرګنـده کړه چـې د یـو کمربند او یـوې لارې لـه وړاندیز څخه په افغانسـتان کې تود هرکلی شـوی او دواړو هېوادونـو او سـیمې تـه یـې زیاتـې ګټـې رسـولې دي. افغانسـتان په دې هڅه کـې دی چـې لـه چـین سره یو کمربنـد او یـوه لاره پـه ګډه اباده کړي او د افغانسـتان او چـین ترمنـځ د سـتراتیژیکې همـکارۍ اړیکـې پرمـخ بوځـي. لـه وروسـتیو څـو کلونـو راهیسـې افغانسـتان د یـو کمربنـد او یـوې لارې پـه وړاندیز کـې ډېـره برخـه درلـوده. مـوږ ډېر خوشحاله یو چـې مخ په زیاتېدونکي افغان جلغـوزي چین ته صادر شي او د دواړو هېوادونـو ترمنـځ د توکـو سـوداګریز ارزښـت کال پـه کال زیاتېـږي. د افغـان بزګرانـو او سـوداګرانو عایـدات پـه واقعـي توګـه زیـات شـوي دي.

ښـاغلي اتمـر هیلـه وښـوده چـې چیـن د افغانسـتان او پاکسـتان ترمنـځ د اړیکـو د ښـه والي پـه خاطـر خپلـې مرسـتې تـه دوام ورکـړي. ښـاغلي وانـګ یي پـه دې اړه وویـل، چیـن د نـورو پـه پرتله زیاتـه لېوالتیا لـري چـې افغانسـتان او پاکسـتان لـه یـو بـل سره پـه سـوله کـې ګـډ ژونـد وکـړي او ښـې دوې اړخیـزې اړیکـې ولـري. هـر څه چـې د افغانسـتان او پاکسـتان ترمنـځ د متقابـل بـاور او د اړیکـو د ښـه والي پـه ګټـه وي، چیـن بـه دغسـې کارونـه وکـړي او پـلان لـري چـې پـه مناسـب وخـت کـې د چیـن، افغانسـتان او پاکسـتان د بهرنیـو چـارو وزیرانـو ګډه غونډه جـوړه کـړي تر څو درې اړخیـزې همکارۍ پـه پرله پسـې توګه پرمختـګ ومومـي. افغانسـتان او پاکسـتان دایمـي ګاونډیـان دي او دواړه د چیـن نـږدې ملګـري دي. زه خوشـحاله یـم چـې لـه یـوې مـودې راهیسـې د افغانسـتان او پاکسـتان ترمنـځ پـه اړیکـو کـې ښـه والـی راغلـی او هیلـه لـرم چـې دغه تمایـل به په پـر لـه پسـې توګـه ټینـګ او پیـاوړی شي. ویروسـونه د سرحدونـو پـه تېرېـدو سره د مختلفـو نژادونـو پـه منـځ کـې خپرېـږي. انسـانان چـې ګـډ برخلیـک لـري، بایـد د لاسـونو پـه ورکولـو سره له کووېـډ- ۱۹ سره ګډه مبـارزه وکـړي. اوسـمهال نړیواله ټولنه ټینـګ بـاور، یووالـی او نـږدې همـکارۍ ته اړتیـا لـري او پـه ګـډ ځـواک او همـکارۍ سره بـه د کووېډ- ۱۹ پـر ضد نړیواله مبارزه کـې بریالیتـوب تـر لاسـه کـوي.

## عامې روغتیا وزارت: د کرونا ویروس له کبله ښایي تر سلو زرو ډېر افغانان ومري

عامې روغتیا وزارت ویلي، د اټکل له مخې به د هېواد ۸۰ تر ۸۵ سلنه خلک پر کرونا ویروس اخته شي چې ښایي له دې ډلې یې تر سل زرو زیات کسان ومري.

د دغه وزارت ویاند وحیدالله مایار تېره ورځ په کابل کې یوې خبري غونډې ته وویل، که د افغانستان نفوس ۳۲ میلیونه وي، نو دا وزارت اټکل کوي چې له ۲٦ میلیونو زیات افغانان به په کووېډ-۱۹ ناروغۍ اخته شي.



مایار دغه راز زیاته کړه چې په دغو ۲٦ میلیونو کسانو کې به ۱٦ میلیونه یې د کورونا ویروس نښې ولري او پاتې به یې نښې نه لري، چې له دې ۱٦ میلیونو څخه به یې ۷سوه زره په روغتونو کې بستر وي.

هغه ویلي: « د ۷سوه زرو له ډلې به یې دوه لکه او ۲۳ زره جدي څارنې ته اړتیا ولري او یو لک او لس زره به د کووېډ-۱۹ له امله ومري.»

د مایار په وینا، که خلک په دې برخه کې همکاري ونه کړي د دغه وزارت سپارښتنې عملي نه کړي، ښایي د داسې پېښو شاهدان واوسو.

مایار وویل، د کرونا وبا له پیل راهیسې یې په ټول افغانستان کې تر اوسه ۱۱ زره او ٦۸ مشکوکې پېښې معاینه شوې دي.

لیکوال: رونالډ. اي. نیومن
ژباړن: جواد تیموري
سرچینه: ډې هېل

# د افغان رهبرۍ کاواکه برخلیک؛


## د قدرت پر سر نانډریو افغانستان له جدي ناورین سره مخ کړی دی

د سولې خبرې په ټپه درېدلي، د طالبانو بریدونه ډېر شوي، کرونا ویروس هم په افغانستان کې په چټکۍ سره د خپرېدو په حال کې دی، خو افغان مشران بیا د قدرت د وېش په ویر کې دي، هر یو یې هڅه کوي چې ځانته ډېر وزارتونه واخلي. افغانان او امریکایان په افغانستان کې د یوې غوره رهبرۍ وږ دي، خو اوس پوښتنه دا ده چې څه ډول تر دې ځایه را ورسېدو او وروسته باید کوم کارونه وکړو!؟

د امریکا او طالبانو ترمنځ هوکړه د سولې هوکړه نه ده، بلکې له افغانستانه د امریکایي ځواکونو د وتلو تړون دی، خو هیلې شته چې دغه تړون به د یوې واقعي سولې لپاره پیل وي. که خبرې بېرته پیل هم شي، د سولې لار به ډېره اوږده وي. د امریکا او طالبانو ترمنځ ستونزمنې خبرې په پای کې پر یو څه ټکان ورکوونکو او جدي پرېکړو پای ته ورسېدې. په دې هوکړه کې راغلي چې افغان حکومت به د خپلو زر تنه زندانیانو په بدل کې پنځه زره طالب زندانیان ازادوي.
که څه هم افغان حکومت د دغو زندانیانو د خوشې کېدو سره یوازې پر دې هوکړه کړې چې په برخه کې به خپله هڅه وکړي، خو که له ژمنې عمل ته راشو، داسې ښکاري چې افغان حکومت د امریکا له دې پرېکړې ناخوښ و او ولسمشر غني هم د امریکا دغه تصمیم حیران کړ. دا چې د زندانیانو بحث د ولسمشرغني لپاره له طالبانو سره د سولې په لار کې د فشار یوه وسیله وه چې د دوی پر وړاندې یې وکاروي، نو له همدې کبله د دغو زندانیانو له خوشې کېدو سره د غني مخالفت تر ډېره د حیرانتیا خبره نه ده.
که څه هم چې په دې وروستیو کې دواړو لورو د یو او بل ځینې زندانیان ازاد کړل، خو هغه زندانیان لاهم نه دي خوشې شوي چې طالبانو یې د خوشې کېدو ټینګار کاوه، همدغو کشمکشونو طالبانو ته دا بهانه په لاس ورکړې چې له افغان حکومت سره د خبرو له پیل ډډه وکړي. متحده ایالتونه اړ دي چې سولې ته د طالبانو د حاضرولو او امتیاز په پار پر خپل متحد فشار راوړي. ښایي پر دې به لا هم کار روان وي. د افغان سولې لپاره د امریکا د بهرنیو چارو وزارت ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد هڅه کوي چې دغه خبرې بېرته پیل شي، خو واقعي سولې ته د رسېدو لپاره لاهم ډېره اوږده لاره پاتې ده، ان دغه څه ته د رسېدو لپاره متحده ایالتونه اړ شول چې له خپل مخکني هدف (له القاعده شبکې سره د طالبانو د اړیکو د پرې کېدو) له تړون څخه سترګې پټې کړي. په بدل کې یې موږ یوازې د کاغذ پر مخ دا ژمنه لرو چې طالبان به هېڅ ډلې ته اجازه نه ورکوي چې د افغانستان له خاورې پر متحده ایالتونو او متحدینو یې بریدونه وکړي - په بهترین وخت کې کمزورې ژمنه.
طالبان لاهم جګړې ته دوام ورکوي. که څه هم چې د اورکم د یوې اونۍ په موده کې په جګړه کې د پام وړ کموالی راغی، خو له هغې وروسته دوی بېرته خپلو بریدونو ته زور ورکړی، چې په بدل کې یې امریکا او ناټو پر طالبانو ځینې هوایي بریدونه هم کړي. دغه راز د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر او د بهرنیو چارو وزیر مایک پامپیو طالبانو ته خبرداری ورکړی چې له افغانستانه امریکایي ځواکونو وتل په لومړي پړاو کې (مشروط) دي او که طالبان خپلې ژمنې پوره نه کړي، دغه پروسه به بېرته ودرول شي، خو د امریکا دغه شرایط نه دي په ډاګه شوي، پر دې اساس لاهم د امریکا اراده مشخصه نه ده چې څه غواړي او طالبان هم خپلو جګړو او بریدونو ته دوام ورکوي.
د طالبانو بریدونه، د دوی تبلیغات چې ګواکې دوی بریالي شول او امریکا یې ماته کړه او د ډېرو زندانیانو د خوشې کېدو غوښتنه، دا په ډاګه کوي چې طالبان د سولې خبرو لپاره جدي فشار نه احساسوي. دوی به هغه مهال د سولې خبرې جدي وګڼي چې پر دې باوري شي چې له نظامي لارې خپلې موخې نه شي ترلاسه کولی، خو دا هر څه په خپل نوبت سره پر امریکایي موخو او په کابل کې د افغانستان د دولت پر قدرت پورې تړلي دي. په داسې حال کې چې امریکا په افغانستان کې ډېرې تېروتنې کړې، دغه راز په کابل کې هم قدرت په ښکاره توګه له تشې سره مخ دی. د قدرت پر سر نانډریو افغانستان له یوه جدي ناورین سره مخ کړی دی.
ولسشمر غني او سیاسي سیال یې ډاکتر عبدالله عبدالله په ۲۰۱۴ ز کال کې په ګډه د ملي یووالي حکومت رامنځته کړ. که څه هم دواړه لوري له دې جوړښت څخه خوښ نه وو، خو دواړو مشرانو ژمنه وکړه چې د غوره راتلونکې لپاره به په ټاکنیزو پروسو کې جدي اصلاحات راولي.
کلونه کشمکشونه چې د پارلماني مانورونو ملاتړ هم ورسره و، تر ډېره پر دې راڅرخېدل چې یو لوری ځان نور هم پیاوړی کړي، خو له بده مرغه چې واقعي اصلاحات رامنځته نه شول. د ۲۰۱۸ ز کال د ولسي جرګې ټاکنو درغلۍ تر یوې کچې راټیټې کړې، خو یوه اداري فاجعه وه. د ولسمشرۍ اوږدمهاله ځنډېلې ټاکنې چې د ۲۰۱۹ ز کال د سپټمبر په ۲۸ مه وشوې، اختلافونه او کړکېچ یې نور هم پراخ کړ.
د افغانستان د اساسي قانون له مخې، د ولسمشریزو ټاکنو ګټونکی هغه کس دی چې ۵۰+۱ رایې وګټي، خو که دغه شمېره پوره نه شي، ټاکنې به دویم پړاو ته ځي. ولسمشر غني د ۵۰.٦٤ سلنه رایو په ګټلو سره بریالی اعلان شو، خو عبدالله وسره مخالفت وکړ. د یادونې ده چې د افغانستان د ۲۰۱۹ زکال په ولسمشریزو ټاکنو د نورو تېرو ټاکنو په پرتله په دغو ټاکنو کې تر ټولو کمو کسانو ګډون کړی و. کله چې د واک پر سر د ارګ او اجرایه ریاست خبرې ناکامې شوې، ولسمشر غني او ډاکتر عبدالله دواړو د ولسمشرۍ د تحلیف بېلابېل مراسم ترسره کړل او ځانونه یې بریالي اعلان کړل. داسې ښکاري چې د عبدالله نوې طرحه چې د سیاسي نانډریو د پای ته رسېدو لپاره یې وړاندې کړې، د ۴۰ سلنه کابینې غوښتنه پکې شوې چې په ټولې ډول پر دې طرحې هوکړه شوې، خو په جزیاتو کې یې لاهم اختلافات شته، خو که دوی پر دې طرحې هوکړې ته هم ورسېږي، بېرته به یوځل بیا د تېر داستان تکرار وي او هر لوری به هڅه کوي چې مقابل لوری کمزوری او ځان پیاوړی کړي.
متحده ایالتونه هم د افغانستان له رهبرۍ څخه ډېر ناخوښ دي. د امریکا د بهرنیو چارو وزیر دواړو رهبرانو ته ګوابښ کړی چې که رواني سیاسي نانډرۍ پای ته ونه رسوي، پر افغانستان به خپله یو میلیارد ډالري مرسته ودروي. هغه له افغان رهبرانو په جدي ډول غوښتي چې په خپلو کې یوې هوکړې ته ورسېږي. له همدې کبله د افغان رهبرانو ځان غوښتونکي حرکتونه د افغانانو په ګټه نه دي. دواړه رهبران باید د خپلو خلکو پر وړاندې د مسوولیت اداکولو او په تاریخ کې د خپل ځایګوټي لپاره پر خپل اوسني دریځ له سره غور وکړي.

# د عارف وزیر شهادت؛

## د بښنې نړیواله اداره: پاکستاني چارواکي دې ژر تر ژره پېښه په هر اړخیزه توګه وڅېړي



په پاکستان کې د پښتون ژغورنې پر غورځنګ د بریدونو په دوام یو ځل بیا ناپېژانده وسله والو د دغه غورځنګ پر مهم غړي سردار عارف وزیر برید وکړ چې وروسته یې د سختو ټپونو له امله سا ورکړه. نړیوالو بنسټونو او په سیمه کې مشهورو سیاستوالو دغه برید غندلی او پر پاکستاني حکومت یې غږ کړی چې د برید عاملین دې ژر تر ژره د قانون منګولو ته وسپاري. بلخوا د پښتون ژغورنې غورځنګ ځینې غړي په ځنګزنه توګه د پاکستان حکومت د دغه برید په ترسره کولو تورنوي او خبرداری ورکوي چې د دوی زغم نور ختم شوی دی او باید خپل غچ واخلي.
وړمه ورځ جمعه ماښام مهال د سویلي وزیرستان په وانه کې وسله والو کسانو پر عارف وزیر برید وکړ. هغه په لومړي سر کې سخت ټپي و او د سیمه ییز روغتون په عاجله څانګه کې بستري شو، خو پرون یې په اسلام اباد کې په یوه روغتون کې د سختو ټپونو له امله سا ورکړه. د راپورونو له مخې، عارف وزیر د خپلې کورنۍ اتلسم غړی دی چې د پاکستاني حکومت او استخباراتو د ظلمونو له امله وژل کېږي.
دغه پېښې په ټولنیزو رسنیو کې پراخ غبرګون پارولی دی. د ټولنیزو رسنیو کاروونکو پاکستاني حکومت تورن کړی چې د دغه ډول کړنو ترشا ولاړ دی او د پښتون ژغورنې، یا بلوڅانو د دفاع او همدا راز د پښتنو نور فعالین د دغه حکومت د استخباراتي کړیو له لوري په نښه کېږي. د ټولنیزو رسنیو فعالینو په ټوېټر او فېسبوک کې د بشري حقونو له نړیوالو فعالینو او بنسټونو غوښتي چې د دې پېښې په اړه خپل دریځ روښانه کړي.
په ورته وخت کې د بښنې نړیوال سازمان هم بیا پر دغه پېښه غبرګون ښودلی دی. دې ادارې پر خپله ټوېټر پاڼه لیکلي چې د بشري حقونو د فعال عارف وزیر د وژل کېدو په اړه دې هر اړخیزې څېړنې او پلټنې وشي. د بښنې نړیوال سازمان وایي چې د پېښې عاملین باید په ګوته شي او له قانون سره سم حساب کتاب ورسره وشي. د سرچینې په خبره: ((پاکستاني چارواکي باید په سوېلي وزیرستان کې د پښتون ژغورنې غورځنګ پر یوه غړي عارف وزیر د برید په اړه خپلواکه او اغېزناکه څېړنه وکړي. له مشکوکو جنایتګرو سره باید حساب وشي)).
دلته په افغانستان کې هم ګڼو پښتنو فعالینو او سیاستوالو دغه برید په کلکو ټکو غندلی دی او د عارف وزیر وژل کېدل یې ستر بشري جنایت بللی دی. پخواني ولسمشر حامد کرزي په دې تړاو په خپاره کړي پیغام کې ویلي، د سردار عارف وزیر پر وژل کېدو خواشینی دی. نوموړي په دې تړاو د خپلې خواخوږۍ مراتب د پښتون ژغورنې غورځنګ له غړو او مشرتابه سره شریک کړي دي.
د پښتونخوا وتلي سیاستوال او پخواني سناتور افراسیاب خټک هم به دې اړه غبرګون ښودلی دی. نوموړي بیا ویلي چې پر پښتنو د ظلم دا لړۍ له کلونو راهیسې روانه ده او اوس د دې وخت دی چې پښتانه سیاستوال خپله چوپتیا ماته کړي. د ده په وینا: ((د عارف وزیر وژل کېدل پښتنو ته د زورواکو پیغام دی. پښتانه مشران باید خپل غږ پورته کړي، کنه دا چاره به همداسې روانه وي)).
د پښتون ژغورنې غورځنګ یوه مخکښ غړي محسن داوړ بیا پر خپل ټوېټر په خپاره کړي پیغام کې ویلي چې دا د ښو ترهګرو کار دی. ښه ترهګر پاکستاني حکومت هغو وسله والو ډلو ته وایي چې د پاکستان د ګټو لپاره جګړه کوي او یا په یو ډول د دغه حکومت ملېشې دي. د داوړ په خبره: ((د زړه له تله خپه یو چې زموږ یو ملګری عارف وزیر د ټپونو له کبله ومړ. د نوموړي پلار او ورو هم څو کاله مخکې اورپکو ووژل. علي وزیر د «ښو ترهګرو» له خوا ووژل شو)).
تر دې وړاندې پاکستاني حکومت د دغه غورځنګ ګڼ غړي نیولي او یا یې ځورولي دي. څه موده مخکې یې د دغه غورځنګ مشر منظور پښتین نیولی و چې تر اونیو بند وروسته یې بېرته خوشې کړ. اوس د پښتون ژغورنې غورځنګ مشرتابه ګوابښ کړی چې نور به د دغه روان ناتار په مقابل کې چوپ نه پاتې کېږي.

# راپورونه: په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شویو کسانو شمېر تر ۲۴۰ زرو واوښت


د فارس خبري اژانس د راپور له مخې، په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس له کبله د مړو شویو کسانو شمېر تر ۲۴۰ زرو اوښتی دی.
دغه اژانس د «Worldometers» په حواله لیکلي چې پر دې ناروغۍ د اخته کسانو شمېر هم په چټکۍ سره د ډېرېدو په حال کې دی چې د تازه شمېرو له مخې، په ټوله نړۍ کې پرې درې میلیونه او ۳۴۰ زره کسان اخته شوي دي.
د سرچینې په خبره، چې د یاد ویروس د قربانیانو او اخته کسانو د شمېر له مخې، امریکا د ټولو هېوادونو په سر کې ځای لري. د راپورونو له مخې، په متحده ایالتونو کې د دغه ویروس له کبله د مړو شویو کسانو شمېر ٦٦ زرو او پرې د اخته کسانو شمېر بیا یو میلیون او ۱۳۵ زرو کسانو ته رسېدلی دی.
د سرچینې په حواله، تر امریکا وروسته اسپانیا د ۲۵ زرو قربانیانو او ۲۴۵ زرو اخته کسانو په درلودو سره په نړیواله کچه دویم هېواد دی چې له کرونا ویروس څخه ډېر اغېزمن شوی دی.
ایټالیا هم د ۲۰۷ زرو مثبت پېښو او ۲۸ زرو قربانیانو په درلودو سره تر امریکا او اسپانیا وروسته په درېیم کتار کې راځي.
بلخوا د امریکا متحدو ایالتونو د کرونا ویروس د ناروغۍ د درملنې لپاره د یوه تجربوي درمل اضطراري استعمال تایید کړ. د امریکا د خوړو او درملو د ادارې کمېشنر سټیفن هان له ولسمشر ډونالډ ټرمپ سره په یوه خبري غونډه کې ویلي، ریمډي سیور درمل د هغو ناروغانو لپاره چې په روغتونونو کې بستري دي، د اضطراري استعمال لپاره تصویب شو. دا په داسې حال کې ده چې د امریکا حکومت تېره اونۍ ویلي وو چې د یو ډول درملو تجربوي استعمال ثابته کړې چې د کرونا ویروس اخته کسان په لنډ وخت کې تداوي کوي. دا درمل د امریکا د روغتیا ملي انسټیټیوټ په څه باندې زر تنو تجربه کړي او مثبته نتیجه یې ورکړې وه.
پر ریمډي سیور درملو د پراخې څېړنې پایله د تېرې اونۍ د چهارشنبې په ورځ اعلان شوه او وویل شول چې دا درمل د «کووېډ-۱۹» ناروغ د ناروغۍ موده چې له ۱۱ ورځو تر ۱۵ ورځو پورې ده، په متوسط ډول څلورو ورځو ته رالنډوي. څېړونکي وایي، هغو کسانو ته چې دا درمل ورکړل شوي، د هغوی په منځ کې د مړینو شمېر هم لږ دی.

## د کتاب خبرې

# د یوویشتمې پېړۍ تجارت

◎ لیکوال: رابرټ کیوساکي
◎ ژباړن: علي‌الله متوکل

### لومړۍ برخه
### د راتلونکي واگې په لاس کې واخله!
### دویم څپرکی




**۲. د هیلو ثرک**

د (۲۰۰۹م) د جولای په دیارلسمه ټایم مجلې په خپله دویمه پاڼه کې د «له رابرت کیوساکي څخه لس پوښتنې» په نوم عنوان لاره. په هغو پوښتنو کې یوه دا وه «ایا د اقتصادي بحران په نننی حالت کې د یوه نوي شرکت د رامنځته کولو امکان شته؟» لومړی څه چې زما فکر ته راغلل دا وو چې «تاسو ټوکې کوئ؟» دې پوښتنې ته مې داسې ځواب ورکړ:((همدا اوس بهترین وخت دی. په بدو حالاتو کې رښتیني متشبثین (Entrepreneurs) پرمختگ کولای شي. دوی د بازار خرابوالي او سموالي ته نه گوري، بلکې په داسې وختونو کې غوره تولیدات او اغیزناکې لارې رامنځته کوي. د حالاتو په داسې ناوړه وخت کې هغه څوک مات دی چې وایي «اوس ښه موقع او فرصت نشته» تاسو به ناوړه اقتصادي خبرونه اورېدلي وي. ایا د ښه خبر اورېدو ته اماده یاست؟ په حقیقت کې هر بد خبر یو ښه خبر دی. کوم ځواب چې ما ټایم مجلې ته ورکړی و، تاسو ته یې هم وایم:((د اقتصاد لوېدل د تجارت د شروع کولو خورا ښه وخت دی. کله چې اقتصاد خرابېږي، متشبث دومره په چټکۍ پرمختگ کوي لکه د ژمي په شپه چې اور وچ لرگي سوځوي.))

پوښتنه: د دوو پرمختللو او بیلیون ډالري شرکتونو (مایکروسافټ او ډیزني) ترمنځ څه مشترک دي؟

ځواب: دواړو شرکتونو د لوېدلي او ناوړه اقتصاد په وخت کې کار پیل کړی دی.

په حقیقت کې د ډائو جونز د سهامي شرکتونو تر نیم زیات شرکتونه د لوېدلي اقتصاد په وختونو کې منځته راغلي دي.

دا ولې؟ ډېر اسانه، کله چې دا نه وي معلومه چې اقتصاد کوم لوري ته ځي، نو خلک له نوښت څخه کار اخلي. د استراحت او ارام له دایرې راوځي او یوه هدف ته د رسېدو لپاره نوښت کوي. کله چې حالات سخت شي، نو سختۍ له منځه وړل کېږي.

اول دا چې بازار په سختو حالاتو کې نوو فرصتونو ته لاره هواروي. پنځه کاله وړاندې په (۲۰۰۴م) کې چې د کورونو ارزښت پورته کېده او ټولو کریډیټ کارتونه لرل، هغه وخت هېڅوک هم وږي نه وو. خلک ماړه وو، د امنیت احساس یې کاوه، بیخي لږ خلک د پیسو گټلو په فکر کې وو. کارگرو هم له دندې څخه د ایستل کېدو او د شرکت د خاوندانو د مالي حالت د خرابېدو چندان فکر نه لاره.

مگر اوس چې بېکاري ډېره شوه او هېڅوک نه پوهېږي چې کومه پانگونه خوندي ده، نو په میلیونونو خلک پر خپل مالي حالت بیا کتنه کوي. هغوی پوهېږي چې د خپل راتلونکي د خوندي کولو لپاره باید پر دویم کار فکر وکړي. که یې اول کار له لاسه ووت، نو یو بل پلان به ورسره وي. اوس خلک تر بل هر وخت د اضافي او زیاتو پیسو د گټلو وږي دي، نو ځکه یې نوو لارو ته فکر او لېوالتیا زیاته شوې ده.

دا کار تر ناوړه اقتصادي بحرانونو پخوا هم موجود و. له اتیایمو کلونو او د یوویشتمې پېړۍ له پیله خلک غواړي خپل راتلونکی په خپل لاس کې واخلي. د امریکا د سوداگرۍ د خونو رییس د (۲۰۰۷م) په یوه راپور کې وایي:((میلیونونه امریکایان د خپلو کوچنیو شرکتونو په رامنځته کولو تشبث کوي.))

په امریکا کې ۷۲ سلنه ځوانان غواړي ځان ته کار وکړي، یانې خپل کار ولري او ٦۷ سلنه یې په دې فکر دي چې په ورځني یا دایمي شکل خپل کار ته تغییر ورکړي.

زه خپله اقتصادپوه نه یم؛ خو تکړه اقتصاد پوه پاول زین پیلزر پېژنم. پاول په سیټي بانک کې د خپل وخت تر ټولو ځوان مرستیال و؛ خو خپل کار یې ځکه پرېښود چې میلیونونه ډالر وگټي. د ده کتابونه د نیویارک ټایمز د زیاتو پلورل شوو کتابونو په لیکه کې راځي. هغه د پور او سپما د بحران او خطرونو وړاندوینه وکړه او د امریکا د دوو ولسمشرانو اقتصادي سلاکار پاتې شوی دی. دا سړی رښتیا هم په اورېدلو ارزي.

پاول د کارونو د کلتوري ارزښت ۱۸۰ درجې بدلون ته اشاره کوي. دی وایي چې د کارگر او کار ورکونکي جوړښت به نور په تشبث او شخصي کار کولو بدلېږي.

پاول وایي:((د شلمې پېړۍ په دویمه نیمایي کې ښوونځي ته تلل، ښه تعلیم ترلاسه کول او په یوه لویه کمپنۍ کې کار کول د ټولو خلکو عمومي نظر و. ازاد کار لرل نامطمئن بلل کېدل، د شاباسي وړ وو؛ خو نامطمئن... . او ان خپل ازاد کار لرل کم‌عقلي هم بلل کېده. نن دغه خبره بیخي برعکس شوې ده.))

پاول رښتیا وایي. د امریکا د سوداگرۍ خونو د رییس راپور د گالوپ (Gallup) له نظر پوښتنې سره سرخوري چې ٦۱ سلنه امریکایان دا خوښوي چې خپله د خپل ځان رییس شي. یوه بله نظر پوښتنه چې د ډیسایفر (Decipher) لخوا شوې وایي، ۷۲ سلنه امریکایي ځوانان غواړي ځان ته خپل کار وکړي او ٦۷ سلنه یې په دې فکر دي چې په ورځني یا دایمي شکل خپل کار ته تغییر ورکړي. **دوام لري...**

# استقلال د لوړو زده کړو خصوصي موسسه

حمیدالله حمیدي




استقلال د لوړو زده کړو خصوصي موسسې خپلې رسمي چارې په ۱۳۹۲ لمریز کال کې پیل کړې دي. د لوړو زده کړو دې خصوصي موسسې په لومړي سر کې په دوو پوهنځیو (حقوقو او اقتصاد) کې محصلین جذب کړل او عملاً یې د تدریس چارې پکې پیل کړې. د استقلال د لوړو زده کړو خصوصي موسسې علمي او تدریسي مرستیال ښاغلی مجید صدیقي وایي، چې له یوه کال فعالیت وروسته وتوانېدل چې له لوړو زده کړو وزارت څخه د دوو نورو پوهنځیو (انجنیري او کمپیوټر ساینس) منظوري او جواز هم تر لاسه کړي. ښاغلی صدیقي وایي، چې د لوړو زده کړو دغه موسسه اوسمهال څلور پوهنځي او اته ډیپارټمنټونه لري.

د استقلال د لوړو زده کړو په موسسه کې اوسمهال د دوو زرو په شاوخوا کې محصلین په یادو څلورو پوهنځیو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي، چې ۴۰ سلنه یې ښځینه او پاتې نور یې نارینه محصلین دي. ښاغلی صدیقي وایي، چې تر اوسه پورې د ماسټرۍ پروگرام نه لري، خو کله یې چې له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقا وکړه، نو لومړنی گام به یې په ځینو پوهنځیو کې د ماسټرۍ پروگرام پیلول وي. د دې موسسې د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی دوه ډیپارټمنټونه (قضا او څارنوالي او نړیوالې اړیکې)، اقتصاد پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه (د سوداگرۍ مدیریت او اقتصاد او تجارت)، کمپیوټر ساینس پوهنځی یې د (معلوماتي ټکنالوژۍ او سافټویر انجنیرنگ) او انجینیري پوهنځی یې هم دوه ډیپارټمنټونه (ساختمان او برېښنا) لري.

د استقلال د لوړو زده کړو موسسې علمي او تدریسي مرستیال ښاغلی مجید صدیقي وایي، چې تر اوسه پورې یې څلور دورې محصلین فارغ کړي دي. دی وایي، همدا سږ کال یې د څلور سوو په شاوخوا کې محصلین له بېلابېلو پوهنځیو څخه فارغ او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کړل. دی وایي، ډېری محصلین یې له فراغت وروسته په مرکز او ولایتونو کې په دولتي او غیر دولتي ادرو کې په کار بوخت شوي دي. ښاغلی صدیقي وایي، چې هر کال یې د نویو محصلینو د جذب کچه توپیر کوي، چې دغه څه تر ډېره د هېواد په اقتصادي او امنیتي وضعیت پورې هم تړلې خبره ده. خو نوموړی وایي چې هر کال د پسرلي او منې په کانکور کې د څلورو سوو په شاوخوا کې محصلین جذبوي.

د لوړو زده کړو په یاده موسسه کې د تدریس چارې د سلو په شاوخوا کې استادانو لخوا مخ ته وړل کېږي، چې ۱۰ سلنه یې تر دوکتورا، ۴۰ سلنه یې تر ماسټرۍ او پاتې نور یې بیا د لېسانس تر کچې پورې لوړې زده کړې لري. صدیقي وایي، چې په استادانو کې یې دایمي او قراردادي دواړه شامل دي. د صدیقي په خبره چې ټول استادان یې د تدریس په چارو کې ښه تجربه لري چې دغه څه مرسته کوي، څو په کار پوه او مسلکي کسان ټولنې ته وړاندې کړي او د هېواد په ابادۍ کې برخه واخلي.

د استقلال د لوړو زده کړو موسسه نیمه انتفاعي موسسه ده چې ۷۰ سلنه محصلین یې د ځانگړي تخفیف له مخې لوړې زده کړې کوي. د لوړو زده کړو د دې موسسې علمي او تدریسي مرستیال وایي، چې دوی په خپله موسسه کې داسې محصلین هم لري، چې سل سلنه تخفیف یې ورکړی او په وړیا ډول زده کړې کوي. د افغان ځواکونو د کورنیو غړو، د شهیدانو معلولینو د وارثینو لپاره ځانگړی تخفیف لري. د هغو محصلینو لپاره چې له یوې کورنۍ څخه څو کسانو یې په دې موسسه کې نوملیکنه کړې وي او د نورو خصوصي پوهنتونونو او یا بنسټونو څخه د معرفي شویو محصلینو لپاره هم مناسب تخفیف ورکول کېږي. د یادولو وړ ده چې د استقلال د لوړو زده کړو په موسسه کې د ورځې په اوږدو کې څلور وخته تدریس کېږي، نو محصلین کولای شي د خپلو شخصي کارونو تر څنگ په مناسب وخت کې په یاده موسسه کې لوړې زده کړې هم وکړي.

صدیقي؛ کتابتون د کور، ښوونځي او پوهنتون لپاره ضروري بولي او وایي، چې موسسه یې مجهز کتابتون لري، چې په دوو پرخو وېشل شوی دی. په یوه برخه کې یې په هارډ ډول د څلورو زرو په شاوخوا کې بېلابېل کتابونه چې د پوهنځیو اړوند دي او یا هم نور معلوماتي کتابونه موجود دي. تر څنگ یې په سافټ ډول یا هم ډیجیټالي کتابتون لري، چې د اویا زرو په شاوخوا کې پکې بېلابېل سندونه، مقالې او کتابونه ځای پر ځای شوي، چې محصلین او استادان یې کولای شي وخت ناوخته له دغه کتابتون څخه گټه واخلي او مطالعه پکې وکړي. ښاغلی صدیقي وایي، چې پر یوه بل کتابتون هم کار کوي چې د سل زره ټوکه کتابونو درلودونکی به وي. دی وایي، چې په راتلونکو دریو میاشتو کې به دغه کتابتون هم فعال کړي.

د استقلال د لوړو زده کړو موسسې علمي او تدریسي مرستیال وایي، چې په ټوله کې په کور دننه له خصوصي او دولتي پوهنتونونو سره ښې اړیکې لري، چې تر څنگ یې په ځانگړي ډول له البیروني پوهنتون سره د علمي همکاریو هوکړه هم لاسلیک کړې ده. نوموړی وایي، چې له هېواده د باندې یې تر اوسه یوازې په قبرس کې له یوه پوهنتون سره د علمي اړیکو هوکړه لاسلیک کړې ده چې له مخې به یې خپل محصلین تر فراغت وروسته دغه پوهنتون ته د ماسټرۍ او دوکتورا لپاره ور معرفي کوي. دی وایي، په دې برخه کې یې له ځینو پوهنتونونو سره خبرې هم کړې دي، چې د علمي اړیکو هوکړې ور سره لاسلیک کړي، څو فارغ شوي محصلین او استادان د لا نورو لوړو زده کړو، تجربو او وړتیاوو لوړولو لپاره دغو پوهنتونونو ته واستوي او په خورا اسانۍ سره د ماسټرۍ او دوکتورا پروگرامونه پکې تعقیب کړي.

د لوړو زده کړو د دې موسسې اداره وایي، چې تر فراغت وروسته د محصلینو تدریسي سندونه د تایید او ارزیابۍ لپاره لوړو زده کړو وزارت ته استوي او تر ارزونې وروسته فارغ شوي محصل ته تحصیلي اسناد ورکول کېږي، څو وکولای شي د دغو اسنادو په وسیله دنده پیدا کړي او نورو لوړو زده کړو ته ور باندې ادامه ورکړي. ښاغلی صدیقي وایي، چې تر اوسه پورې ورته د ډیپلومونو د وېش وار نه دی رسېدلی، کله چې نوبت ورته ورسېږي، نو فارغ شویو محصلینو ته به ډیپلومونه هم ورکړي. د صدیقي په خبره، محصلینو ته یې د نظري زده کړو تر څنگ د عملي زده کړو زمینه هم برابره کړې ده، د بېلگې په توگه سږ کال یې د اقتصاد پوهنځي محصلینو ته تقویتي ټولگي جوړ کړي و، د کمپیوټر ساینس د محصلینو لپاره یې د پروگرامېنگ او افیس پکېج پروگرامونه تدریس کړل، د انجنیري پوهنځي محصلینو ته یې د ټولو اتو سمسترونو درسونه په ویډیویي ډول برابر کړي او دې ته ورته نور فعالیتونه. ښاغلی صدیقي وایي، چې تر څنگ یې وخت ناوخته محصلینو ته سیمینارونه او ورکشاپونه جوړ کړي، د حقوقو په پوهنځي کې تمثیلي محکمې جوړوي او له یو شمېر وزارتونو او نورو ادارو سره هوکړې لري، چې له مخې یې محصلین د عملي کار لپاره ور استوي او تجربې تر لاسه کوي.

د دې موسسې اداره وایي، چې د کیفیت د تضمین په هغه پروگرام کې چې د لوړو زده کړو وزارت لخوا عملي کېږي، تر اوسه پورې بریالي راوتلي او هیله لري، چې پاتې دورې به یې هم په بریالۍ توگه تر سره کړي. صدیقي وایي، چې له موسسې څخه پوهنتون ته ارتقا کول، د ماسټرۍ پروگرام پیلول او د نویو پوهنځیو جوړول یې په راتلونکو پلانونو کې دي.

د لوړو زده کړو وزارت له لوري د خصوصي پوهنتونونو فارغ شویو محصلینو ته د تحصیلي اسنادونو په ورکړه کې ځنډ د استقلال د لوړو زده کړو موسسې له لویو ستونزو څخه بلل کېږي. ښاغلی صدیقي د دې ځنډ لامل د خصوصي پوهنتونونو زیاتوالی او د لوړو زده کړو په وزارت کې د خصوصي پوهنتونونو په ریاست کې د تشکیل او کارکوونکو کموالی بولي. دی وایي، د کارکوونکو دغه کموالی د دې لامل کېږي، څو محصلین په میاشتو میاشتو په تمه پاتې شي. نوموړی وایي، که څه هم دوی لوړو زده کړو وزارت ته د محصلینو اسناد پر وخت سپاري، خو بیا هم د وزارت لخوا د اسنادو په تایید او ارزونه کې ځنډ راځي. که څه هم چې ښاغلي صدیقي په یاده موسسه کې د نورو ستونزو په اړه څه ونه ویل، خو د خصوصي پوهنتونونو اتحادیه وایي، چې لوړو زده کړو وزارت د خصوصي او دولتي پوهنتونونو تر منځ توپیر کوي. د ډېری خصوصي پوهنتونونو مسوولین وایي، دا چې خصوصي پوهنتونونه په افغانستان کې یوه نوې تجربه ده، نو لوړو زده کړو وزارت ته پکار ده چې له دوی سره هر اړخیزه مرسته وکړي، څو دغه پوهنتونونه پر خپلو پښو ودرېږي. د دایمي ځایونو نشتون، لوړې مالیې، د ۲۴ ساعته برېښنا نشتون، په علمي رتبو کې د استادانو نه شاملول او د لا نورو لوړو زده کړو، تجربو او وړتیاوو تر لاسه کولو لپاره د محصلینو او استادانو بهر ته نه استول او په بورسونو کې ونډه نه ورکول، د خصوصي پوهنتونونو اساسي ستونزې بلل کېږي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,۲۰ |
| € | ۸۲,۲۰ |
| Rp. | ٤۷۷ |
| ₹ | ۹۰۰ |
| ¥ | ۱۰,۵۰ |
| £ | ۹۱,۲۰ |

### بیړنی شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زېږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

# هند به په افغان سوله کې کوم ځای ولري؟

لیکواله: سوهاسیني حیدر / ژباړه: مرسلین ارسلا

که څه هم هند د افغانستان په تړاو په سیمه ییزو بحثونو کې منزوي شوی، خو د سولې په هڅو کې د ورگډېدو لپاره باید له شته فرصتونو استفاده وکړي.

د اپریل میاشتې په لومړیو کې د ملگرو ملتونو دارالانشا د ٦+۲+۱ په نامه د افغانستان د سولې له هڅو د سیمه ییز ملاتړ ډلې غونډه جوړه کړه. په دې ډله کې د افغانستان شپږ گاونډي هېوادونه چین، ایران، پاکستان، تاجکستان، ترکمنستان او ازبکستان شامل وو؛ دغه راز د امریکا متحده ایالتونه او روسیه د نړیوالو لوبغاړو په توگه او پخپله افغانستان هم پکې گډون درلود. له افغانستان سره شته تاریخي او ستراتیژیکو اړیکو ته په پام سره هند د اپریل د ۱٦ مې په ناسته کې له خپل نه شتون څخه نا خوښه و، خو دا لومړی ځل نه دی چې له هند سره داسې کیږي. له هند سره پخوا هم داسې شوي، خو بیا یې جبران کړي.

د بېلگې په توگه د ۲۰۰۱ ز کال په ډسمبر میاشت کې د ځانگړي استازي ساتیندر لمبها په مشرۍ د هند یو پلاوی د جرمني د بن ښار پېترزبرگ هوټل ته ورسېد، چیرته چې د بن د مشهور هوکړه لیک په تړاو بحثونه روان وو، خو د غونډې په رسمي ځای کې د دوی لپاره ځای په پام کې نه و نیول شوی. د ۲۰۱۰ میلادی کال په جنوري کې هند ته بلنه ورکړل شوه چې د افغانستان په تړاو د لندن په کنفرانس کې گډون وکړي، خو د هند استازي د هغې مهمې غونډې له خوني بهر پاتې شول چې له طالبانو سره د سولې د مذاکراتو د بیا پیل په تړاو پکې خبرې کېدې.

په ۲۰۲۰ میلادي کال کې د افغانستان په تړاو له سیمه ییزو خبرو اترو څخه د هند بې برخې کولو دلیل ظاهراً دا و چې دغه هېواد له افغانستان سره گډ سرحد نه لري، خو حقیقت دا دی چې نوي ډیلي هېڅکله د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ د سولې له پروسې خپل رسمي ملاتړ نه دی اعلان کړی. حال دا چې هم په ۲۰۰۱ او هم په ۲۰۲۰ میلادي کال کې هند په بریالیتوب سره خپل دا محرومیت جبران کړی. د بن د هوکړې پر مهال د سفیر لمبها له هڅو له دې امله پراخ هرکلی وشو چې هغه وکړی شول دا یقیني کړي چې د شمالي ټلوالې مشران دې اجماع ته سره رسېدلي، څو حامد کرزی د موقتي اداري د مشر په توگه ومني او دا اداره د طالبانو د رژیم ځایناستی شي. په ۲۰۱۰ میلادی کال کې د لندن له کنفرانس وروسته نوي ډیلي له کابل سره خپلې اړیکې دوه چند پراخې کړې او په ۲۰۱۱ میلادي کال کې لومړي وزیر من موهن سنگهـ او جمهور رییس حامد کرزي د هند او افغانستان ترمنځ د ستراتیژیکو همکاریو تاریخي قرارداد لاسلیک کړ، دا په خپل ډول کې له یوه بهرني هېواد سره د افغانستان لومړنی قرارداد و.

**د نوي ډیلي دریځ**

اوس چې د سویلي اسیا بلاک لوبغاړي په افغانستان کې د خپلو راتلونکو اقداماتو په تړاو فکر کوي، نو دوی دې دا له پامه وغورځوي چې گڼې د افغانستان د مسئلې حل د هند له حضور پرته شونی دی، حال دا چې د هند د منزوي کولو د دلایلو مالومول هم اړینه خبره ده. که له دې یې پیل کړو چې له طالبانو سره له ښکاره خبرو اترو څخه د هند ډډه کول د دې لامل شوي چې هند له طالبانو سره د خبرو اترو پر هر میز د ویلو لپاره څه ونه لري، د هند دا دریځ اصولي دی چې د سولې پروسه باید یوازې د افغانانو په مشرۍ – د افغانانو په مالکیت او د افغانستان تر کنټرول لاندې وي، خو دا دریځ خریدار نه لري. نن ورځ کابل او یا د اشرف غني حکومت نه د پخلاینې پروسې رهبری کوي، نه یې مالکیت لري او نه یې هم کنټرول په لاس کې دی، حال دا چې دغه مذاکرات له افغانستان نه د امریکایی عسکرو پر وتلو او د قدرت د شریکولو پر لارو چارو د افغانانو ترمنځ پر خپلمنځي خبرو ور ټول دي. د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ سوله چې پر افغان پوځ د طالبانو د تاوتریخجنو بریدونو کچه یی هم راټیټه نه کړه، دا معنی لري چې له دغه هېواده د امریکایي پوځیانو په وتلو سره به طالبان لا پیاوړي کیږي او اوس چې متحده ایالات له افغان حکومت سره خپلې مالي مرستې کموي، نو طالبان به د بین الافغاني مذاکراتو په پروسه کې له لا پیاوړي دریځه گډون کوي.

**د طالبانو او متحده ایالاتو ترمنځ هوکړه؛ هند په خپل گاونډ کې د سولې دې معاملې ته په ښه سترگه گوري**

د هند دې پرېکړې چې خپلې ټولې هگۍ دې د غني په ټوکرۍ کې کیږدي، دوه ډوله پایلې درلودې؛ د پخلاینې په پروسه کې یې ځای ځایگی محدود شوی او د کابل په دې ژور ویشلي ډیموکراتیک نظم کې یې د پخواني اجراییه رییس عبدالله عبدالله په څیر له نورو افغان رهبرانو سره د هند اړیکې کمزورې کړې دي. دغه راز په افغانستان کې د هند حضور چې له ۲۰۰۱ ز کال راهیسې د زړه په وینو جوړ شوی، یوځل بیا د اسلامي دولت ډلې د خراسان څانگې (ISKP) په څیر د ترهگرو ډلو له خوا چې د باور له مخې د پاکستان د استېلشمنټ له خوا یې ملاتړ کیږي، گواښل کیږی. څېړنو ښودلې چې په مارچ میاشت کې په کابل کې پر گورودوارا [د سیکانو پر مذهبي عبادتځي]هغه خونړی برید چې ۲۵ کسان پکې ووژل شول، هدف یې په کابل کې د هند سفارت و او د هغه پلان شوي برید برخه وه چې استخباراتي ادارو یې په تېر ډسمبر کې راپور ورکړی و او ټاکل شوې وه د موټربم په واسطه په جلال اباد او هرات کې د هند کونسلگرۍ هدف وگرځوي.

که څه هم د هند حکومت ویلي چې نوي کرونا ویروس دوی دې پرېکړې ته اړ کړي، څو له دغو دواړو کونسلگریو خپل کارکوونکي راوباسي، خو حقیقت دا دی چې د دغو کونسلگریو د امنیت بشپړ ارزول پیل شوي. په هر صورت، په افغانستان کې د هند د ډیپلوماتیک حضور پیاوړي کول باید یوازې د حالاتو په ضرورت پورې ونه تړل شي.

**د هند مصلحت له کومه گواښل کیږي؟**

د هند حکومت باید په هېواد کې د وروستیو پېښو، په ځانگړې توگه د تابعیت قانون د اصلاحیې پر سر د را ولاړو شویو جنجالونو له امله د هغه حسن نیت له منځه تلو ته هم پام وکړي چې هند ترې په افغانستان کې برخمن دی. د زیربنایي پروژو، روغتیا، زده کړو، سوداگرۍ، غذایي امنیت او دغه راز په هند کې زده کړو، روزنې او کار ته د افغانانو لاسرسی د دغه حسن نیت د رامنځته کېدو اساسي ټکي دي. پر دې ټولو سربېره، د هند کثرت گرا او ټول شموله ډیموکراسي نورو ته د الهام ورکولو ستره بېلگه ده. افغان وگړي چې اکثریت یې مسلمانان دي او ډېری یې هند خپل دویم کور بولي، د هند له دې اقدامه چې غواړي یوازې لږه کیو (اقلیت) افغانانو ته تابعیت ورکړي، په هغه کچه ناراضه دي، له کومه چې دوی په راپورونو کې د مسلمانانو ضد او په هند کې له تاوتریخوالي ډکو راپورونو کې اوریدلي.

**د متحده ایالاتو او طالبانو هوکړه؛ هغه معامله چې وضعیت یې نامعلوم کړی**

که څه هم چې دا ټول له وضعیته د درک ستونزې دي، نو نوی ډیلی باید چابک شي او د افغانستان په مسئله کې بیا ځلې خپل لاس بر کړي. د پروژو په برخه کې د هند درې میلیارده ډالره مالي مرسته، له افغانستان سره د یو میلیارد ډالرو په ارزښت سوداگري، د چابهار له طریقه د بدیلې لارې د جوړولو په برخه کې د ۲۰ میلیاردو ډالرو په ارزښت د پروژې طرحه، سربېره پر دې د افغانستان له ملي اردو څخه د هند ملاتړ، د اداري کارکوونکو، ډاکټرانو او نورو مسلکي کارکوونکو روزل هغه څه دي چې د افغانستان په تړاو په سیمه ییزه فورمول بندي کې باید د هند اوچت دریځ یقیني کړي.

د افغانستان د پارلمان وداني، د زرنج – دلارام لویې لار او د افغان – هند دوستۍ بند (سلما) او ورسره سلگونه وړو انکشافي پروژو د افغانانو په زړونو کې هند ته ځای جوړ کړی، د پاکستان دې هڅو ته له پام پرته چې غواړي د افغانانو، په ځانگړې توگه د جنوب مېشتو له زړونو دا ځای ځایکی پاک کړي. په نتیجه کې، دا به یوه تېروتنه وي چې هند په اوسنیو شرایطو کې خپل ټول ملاتړ یوازې پر کابل او د غني پر حکومت ورټول او محدود کړي. د هند حکومت باید دا وښیي چې مرستې یې همه شموله دي، په ځانگړې توگه د نوي کرونا ویروس پرمهال باید دا مرستې له پلازمینې بهر، ان هغو سیمو ته چې د طالبانو په واک کې دي، ورسوي.

**یو گام**

هند باید د افغانستان د سولې په هڅو کې شته فرصتونه په نښه او ترې استفاده وکړي. دغه هڅې د غني او عبدالله ترمنځ له جوړ جاړې پیلېدی شي او هغه لوی رهبران هم باید سره یوځای کړل شي چې لسیزې هند ورسره اړیکې جوړې کړې. دا به یوه لویه تراژیدي وي چې طالبان د متحده ایالاتو له معاملې سره مل د کابل پر حکومت ور ودانگي او د ۱۹۹٦ ز کال په څېر مخالفین یې په کابل کې سره ویشلي وي.

داسې ښکاري چې د امریکا له ځانگړي استازي زلمي خلیلزاد سره د هند د بهرنیو چارو وزیر اېس جي شنکر د تېرې اونۍ خبرې به، چې د سولې په پروسه کې د هند پر ورگډېدو پکې خبرې وشوې، دغه شان یوه هدف ته لار پرانیزي.

د افغانستان په تړاو د متحده ایالاتو او ایران ترمنځ یو تفاهم هم تلپاتې سولې ته د رسیدو لپاره اړین دی. هند کولی شي لکه د چابهار د پروژې مسئله، په دې برخه کې هم د منځگړي رول ولوبوي.

بالاخره دا چې نوی ډیلی باید د ملگرو ملتونو له خوا د نوي کرونا ویروس پرمهال د شخړو د درېدو په برخه کې له شوې غوښتنې استفاده وکړي او له پاکستان سره تربگنې تعلیق کړي. هغو خنډونو ته په پام سره چې تیر کال د کشمیر د مسئلې پر سر د دواړو هیوادونو په اړیکو کې رامنځته شول، دا کار اسانه نه دی، خو دلته یې یوه بېلگه موجوده ده او هغه د متحده ایالاتو او طالبانو ترمنځ خبرې دي چې ویې ښوده دواړه لورو دا ضروري وگڼله، څو د افغانستان د راتلونکې په باب سره د خبرو میز ته کېني. په یوه بریالي افغانستان کې د هند د تلپاتې گټو لټول او د افغانانو لپاره د سوکاله ژوند غوښتنه هغه څه دي چې هند ته یې دا مزل اسانه کړی.

پر دې ټولو سربېره، د هند حکومت باید د پخوا په څېر د افغانستان په چارو کې د یوه ځانگړي استازي پر گمارنه غور وکړي، څو د افغانستان پر مسایلو کار وکړي او دا استازی باید هم ډیپلوماتیک مهارتونه ولري او هم په دې حساسو شرایطو کې د دغه هېواد پر تاریخ پوه وي.

## سیگار: غوڅ ملاتړ ماموریت په افغانستان کې د بریدونو په اړه د معلوماتو خپرول بند کړي دي

د افغانستان د بیارغونې په چارو کې د امریکا سرمفتش دفتر یا سیگار ویلي چې د ناټو د غوڅ ملاتړ ماموریت په دغه هېواد کې د طالبانو د بریدونو په اړه یې د معلوماتو خپرول بند کړي دي.

د امریکا غږ د خبر له مخې، سیگار په خپل تازه راپور کې ویلي چې د طالبانو د بریدونو په اړه معلومات معما گرځېدلي او ناټو ځواکونه دا پټ معلومات یوازې له ځان سره ساتي.

د سیگار مشر جان سوپکو په یوه خپاره شوي راپور کې ویلي: «د ناټو ماموریت د کال په اولې برخې کې (تېرو درېو میاشتو کې) د دښمن د بریدونو د شمېرخپرول محدود کړي دي.»

نوموړي زیاته کړې چې له ۲۰۱۸ ز کال راهیسې دا لومړی ځل دی چې د ناټو په مشرۍ د ائتلاف ځواکونه د طالبانو د بریدونو په اړه د معلوماتو له خپرولو ډډه کوي.

سرچینې زیاته کړې، ناټو یوازې د مارچ په میاشت کې سیگار ته لنډه اعلامیه ورکړې وه چې یوازې دومره پکې ویل شوي وو چې طالبانو په دې وروستیو کې بریدونه زیات کړي دي.

په ورته وخت مې ناټو وایي، د طالبانو د بریدونو په اړه معلومات ځکه نه خپروي، چې اوس دا معلومات د امریکا-طالبانو ترمنځ د روانو سیاسي مذاکراتو د داخلي بحثونو حساسه برخه ده.

سیگار زیاته کړې، مخکې به دا ډول معلومات د «دښمن د بریدونو په نوم» خپرېدل، خو د امریکا د دفاع وزارت ویلي دي چې په دې اړه به وروسته معلومات خپروي.

سیگار داسې مهال دا خبر خپروي چې د افغانستان د امنیت شورا وایي، له امریکا سره له تړون وروسته طالبانو تر دې دمه ۲۸۰۴ بریدونه کړي دي.

دا په داسې حال کې ده چې څو ورځې مخکې یوناما په افغانستان کې د روان تاوتریخوالي په اړه د ۲۰۲۰ ز کال د درېو میاشتو راپور خپور کړ چې له مخې یې په یادې مودې کې ۵۳۳ ولسي خلک وژل شوي او ۷٦۰ نور ژوبل دي.

د یوناما په راپور کې راغلي: «۱۹۸ ملکي وگړي د دولت پلوه ځواکونو لخوا وژل شوي او ۲۱۴ نور ټپیان شوي چې د ملکي تلفاتو ۳۲سلنه جوړوي. د یادو ملکي تلفاتو ۳۹سلنه طالبانو، ۱۳ سلنه د داعش خراسان څانگې او پاتې نور یې د دولت ضد ناپېژندل شویو عناصرو ته منسوب دي.»

مسیر ورځپانه
مسوول مدیر: اسدالله وحیدي
مرستیال: شفیق امیرزی
اېډېټران: جواد تیموري او امان الله حنیفي
خبریالان: حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
گرافیک او ډیزاین: ارمان
چاپخونه: وایگل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL
PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کيفيت او چټک خدمات په
وايگل چاپ کې تجربه کړئ!
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

يکشنبه د ۱۳۹۸ د غويي ۱٤مه | د ۲۰۲۰ د مي دريیمه |۵۳۳مه گڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننگرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۲۰ | ۲۸ | ۳۳ | ۲۸ | ۲۹ | ۲۳ |
| ۱۰ | ۱٤ | ۱۷ | ۱٦ | ۱۸ | ۱۵ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۲۷ | لمر ختل ۰۵:۰۱ | ماسپښين ۱۱:۵۱ | مازيگر ۰۳:۳۵ | ماښام ۰٦:٤۰ | ماخوستن ۰۸:۱۵

يکشنبه ۱۳۹۹/۲/۱٤
د سهار اذان ۰۳:۲۸ د ماښام اذان ۰٦:٤۳
رمضان کریم

## نړۍ




## راپورونه: د وينزويلا په ليانوس زندان کې د وروستيو نښتو له کبله ۹۰ کسانو ته مرگ ژوبله اوښتې ده



د راپورونو له مخې، د وينزويلا د پلازمېنې په ليانوس زندان کې د وروستيو نښتو له کبله ۴۰ تنه وژل شوي او ۵۰ نور ټپيان دي.
د کاړدين ورځپاڼې د راپور له مخې، د زندانيانو او پوليسو ترمنځ دا نښتې هغه مهال پيل شوې چې پوليسو زندان ته د بنديانو د کورنيو له خوا د خوراکي موادو د لېږد مخه ونيوله.
د راپورونو له مخې، دغه زندان چې د وينزويلا د پلازمېنې کاراکاس په ۴۵۰ کيلو مترۍ کې پروت دی، په وروستيو کې نښتو کې يې يو شمېر پوليس هم ټپيان شوي دي. د دغه هېواد د زندانونو د برخې وزير ايريس وارلا هم د دغه خبر پخلی کړی او ويلي يې دي چې په دغو نښتو کې د ياد زندان مشر هم ټپي شوی دی.
د سرچينې په خبره، د وينزويلا په ۵۳۰ زندانونو کې له ۱۱۰ زرو ډېر کسان چې لويه برخه يې سياسي بنديان جوړوي، زنداني شوي چې وخت ناوخته ترې د بشري حقونو د نقض راپورونه هم خپرېږي. تېر کال هم د ياد هېواد په يوه زندان کې د پوليسو او بنديانو ترمنځ په نښتو کې ۲۹ کسان ووژل.
بلخوا د بشري حقونو مدافعو بنسټونو او د ښښني نړيوال سازمان په دغه هېواد کې د زندانيانو پر وضعيت اندېښنه ښرگنده کړې ده.

## چين: امريکا له کرونا ويروس سره د مبارزې په برخه کې ناغېړي کوي

د چين د بهرنيو چارو وزارت يوه لوړ پوړي چارواکي امريکا له کرونا ويروس سره د مبارزې په برخه کې پر ناغېړۍ تورنه کړې ده.
د چين د بهرنيو چارو مرستيال وزير لي يوچېنگ پر متحده ايالتونو تور پورې کړی چې د کرونا ويروس د مخنيوي په برخه کې يې ډېر وخت ضايع کړی دی. نوموړي له اين بي سي نيوز شبکې سره په خبرو کې د امريکا هغه ادعاوې هم بې بنسټه بللي چې گواکې چين په پيل کې د دغه ويروس مثبت پېښې پټې کړې دي.
يوچېنگ ويلي چې هېواد يې له پيله تر دې مهاله له کووېډ-۱۹ ويروس سره اغېزمنه او برياله مبارزه کړې چې له همدې کبله يې په چين کې د دغه ويروس چټکه پراختيا هم تر خپل کنټرول لاندې راوستې ده. نوموړي دغه راز د ډونالډ ټرمپ اداره د ياد ويروس سره د مبارزې په برخه کې پر ناغېړۍ تورنه کړې او ويلي يې دي چې دغه هېواد په لومړيو کې فرصت درلود چې د کرونا ويروس له خپرېدو مخنيوي وکړي، خو په خبره يې، امريکا خو اونۍ وخت ضايع کړ او اوس يې د خپلو ناغېړيو بيه پرې کوي.

## سپيدار: عبدالله عبدالله طرح «حکومت همه شمول و فراگير» را به ارگ فرستاده‌است

اميد ميثم سخن‌گوی عبدالله عبدالله می‌گويد که طرح آنان به ارگ فرستاده شده‌است و هرگاه روی جزئيات توافق صورت بگيرد، اين طرح با مردم شريک ساخته خواهد شد.
او افزود که اين طرح در برگيرنده ايجاد يک حکومت همه شمول و فراگير است و می‌افزايد که انتظار دارند به‌علت مبارزه با تهديد ويروس کرونا و روند گفتگوهای صلح، طرح ايجاد يک حکومت توافقی تا چند روز آينده نهايی و عملی شود. او می افزايد: «پروسهٔ صلح به يک مرحلهٔ حساس رسيده‌است تا روزهای نزديک ما بتوانيم توافقنامه حکومت توافقی، همه شمول، فراگير و ملی را نهايی بسازيم.»
در همين حال، ارگ می‌گويد که مذاکرات و بحث‌ها روی موضوعات و مسايل مهم سياسی در سطوح مختلف جريان دارد و پيشرفت‌های چشم‌گيری نيز در پی داشته‌است، اما حکومت جزئيات و موضع‌گيری رسمی دربارهٔ اين مذاکرات را بعد از نهايی شدن آن با مردم شريک خواهد ساخت.
اين طرح با پا درميان حامد کرزی، رئيس‌جمهور پيشين کشور به ارگ فرستاده شده‌است.
کسانی نزديک به آقای کرزی می‌گويند که اميدوار هستند هر دو طرف بالای اين طرح توافق کنند تا نگرانی‌ها، کاهش يابند.
تاکنون جزئيات تازهٔ طرح عبدالله روشن نشده است، اما پيش از اين منابعی گفته بودند که در طرح تازه، آقای عبدالله رهبری شورای عالی مصالحه را پذيرفته است، اما سهم ۵۰ درصدی درکابينه، صلاحيت‌های اجرايی در عزل و نصب واليان و فرماندهان پوليس شماری از ولايت‌ها را بايد داشته باشند.

## ژوند

## روژه د روغتيا تر څنگ د انسان عمر زياتوي



په بدن د روژې د اغېزو په اړه وروستۍ څېړنه وايي چې روژه د انسان ميتابوليزم چټکوي او د زړښت پروسه ورو کوي.
يوه نوې څېړنه چې د ساينسي راپور په مجله کې خپره شوې، وايي چې روژه د انسان د عمر په اوږدولو کې مثبت رول لوبوي. په دې څېړنه کې چې په زړو خلکو کې د کالورۍ د اخيستو او کمولو يعنې روژې ته ورته د يوه مېتود (تگلارې) څخه استفاده شوې، ښيي چې روژه د انسانانو عمر اوږدوي. ساينسپوهانو د روژه نيوونکو کسانو په وينه کې د پورين او پيريميدن اندازې وکتلې چې تر پخوا ډېرې زياتې شوې وې. په وينه کې د پورين او پيريميدن د اندازو زياتوالی په بدن کې د انتي اوکسيدان د زياتوالي سبب کېږي. د دې ترڅنگ پوهان وايي چې د لوږې په وخت کې د بدن حجرې د ژوندي پاتې کېدو هڅه کوي چې د انتي اوکسيدان توليد نور هم زياتېږي، د انتي اوکسيدان زياتوالی په بدن کې د نورو ناروغيو د مخنيوي لپاره هم گټور تمامېږي.

## د ټولنې د اصلاح لپاره ماشومان سم وروزئ!

د ماشومانو ښه روزنه ښې پايلې هم لري. د مور او پلار د نوم د لوړېدو سبب گرځي. د اولاد ښه روزنه د مور او پلار له مړينې وروسته جاريه صدقه ده او که خبره برعکس وي، نو دې ټولنې په زيان تمامېږي. مور او پلار ته په کار دي چې تر هرڅه وړاندې د ماشوم ښې روزنې ته پام وکړي او هغوی ته د ښه تعليم او روزنې زمينه برابره کړي. د ماشوم په روزنه کې دې له ماشوم سره ښه چلند، مينې او شفقت ته لومړيتوب ورکړل شي. پر ماشومانو ذهني فشار راوړل يې‌له ذهني ناروغيو سره مخ کوي. له ماشومانو سره دې د هغوی له خوښې سره سمې لوبې وشي. لوبې او ساعت



تېري د ماشومانو په ژوند مثبت اغېز کوي. د لوبو پر وخت ماشوم ډېر څه په عملي توگه زده کوي. پوهان وايي، که غواړئ راتلونکې ټولنه اصلاح او مثبت بدلون پکې راولئ، نو د دې کار لپاره مو ماشومان په ښه روزنه او سالمه روحيه وروزئ؛ ځکه د نن ماشومان د سبا ورځې ځوانان او د ټولنې مخکښ کسان دي.

ماسټر ډېبټ کارټ
د عزيزي بانک ماسټر ډېبټ کارټ له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتياوو او شرايطو سره سم ډيزاين شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پيسو ته لاسرسی لرلی شئ.
• په ټوله نړۍ کې له 25 ميليون ډېرو سوداگريزو مرکزونو/پلورنځيونو کې د منل کېدو وړتيا لري.
• د دې لپاره چې ژر پيسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشينونو گټه اخيستلی شئ.
1515 www.azizibank.af
عزيزي بانک
Azizi Bank

